مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۳/۰۳

# درد

ز ه له درد ځیني څه غواړم
درد مي خپله نه پریږدي
چي د بل چا په قسمت وي
ژر زما تقدیر ته راشي
خواستګر نه دی جابر دی
بې له شرطه بې له سواله
زمازړه کي کورګی جوړ کړي
بیا نو هومره ستم وکړي
چي زه هیښ شمه حیران شم
له ناکردو یې پرېشان شم
په نارو شم په فغان شم
خو ما څوک هم درک نکړي
نه مي اوري نه مي ویني
نو مجبور شمه ګویان شم
چي اې درده له تا زار شم
ستا له وصل نه قربان شم
له جانانه ته را لنډ يي
هغه نشته ته تر خوا يي
خو که ته نه خفه کیږې
د یوې لمحې له پاره
چي ته هم له عشق خبر شي
ته مین زه به جانان شم

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ